مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۱۸/۰۷/۲۵

# د کاظم خان شیدا دېوان نوي چاپ ته یوه کتنه

## لومړۍ برخه

دغه دېوان د ښاغلي حنیف خلیل په همت په ۱۳۸۴ل / ۲۰۰۵ز کال د دانش خپرندويي ټولني له خوا په پېښورکي ديو زر ټوکو په تېراژ په کلکه وقايه کي چاپ سوی دئ. د تدوین چاري او سریزه، يادښتونه او وییپانگه ئې ټول د حنیف خلیل له خواسرته رسېدلي دي. د کتاب ټول مخونه ۴۹۵دي چي په دې کي سریزه او وییپانگه هم شامله ده خو د خپرندويي ټولني یادښت (یومخ)، ډالۍ (یومخ) او سمونلیک (یومخ) په دې شمېره کي نه راځي.کتاب "د مېجر راورټي، سید انوارالحق او نسیم اخکزي " نومونو ته ډالۍ سوی دئ.

د کاظم خان شیدا د دې دېوان کره کتنه ما د خپل کتاب ( پښتو متون سمېدل غواړي) د دوهم ټوک په لیست کي په پام کي نیولې وه خو دهغه کتاب دغه ټوک لا د چاپ له پاره تیار نه دئ، ځکه مي نو اراده وکړه چي دهغه مطالب په خواره واره ډول د مقالو په بڼه خپاره کړم. دا دېوان چي ماته د کاظم خان شیدا د نورو چاپ سوو دېوانو په پرتله د ډاډ وړ ایسي، په سر کي یوه مفصله سریزه لري (۳۹ مخه) او په هغې کي ئې د شیدا په اړه د معلوماتو ورکولو لومړني منابع، د زېږېدو پر نېټه، هندوستان ته پر سفر او نورو پېښو، د افضل خان خټک د وفات پر کال،هندوستان ته د شیدا پر رسېدلو، د شیدا پر ولدیت، پر ورونو او اولادونو، د شیدا پر شخصیت، پر مړینه، په (پر) شیدا د شوي کار تعارف، د دېوان پر ترتیب، د شیدا دېوان پر قلمي نسخو، پر چاپ دېوانونو، پر دا دېوان او دا نسخه، د دې نسخې پر تعارف بنې د خوند ځېړنیزي خبري سوي دي او د خپلو خبرو په پای کي ئې له هغو ښاغلو مننه کړې ده چي ده ته ئې په دغه کار کي د مرستي لاس ورکړی دئ. د دغي ځېړني په باب زه دلته ځکه نه ږغېږم چي زما د همدې لیکني استقامت پر بل لور دئ او زه غواړم چي د دغه متن پر شکل او ترتیب باندي بیان وکړم او وښیم چي دا متن د متن پوهني د اصولو پر تول څونده (څومره)برابر خېژي ؟

د کاظم خان شیدا د دغه متن مرتب د سریزي په (۳۳ مخ) کي لیکلي دي چي " دا موجوده دېوان د دریو چاپ شویو دېوانونو او یوې قلمي نسخې نه مرتب شوی دی او بنیاد یې هغه قلمي نسخه گرځولې شوې ده کومه، چې د اسلامیه کالج پېښور په لائبرېرۍ کې په ۱۹۹۳ نمبر کې خوندي ده". دا نسخه ئې د سریزي په ۳۵ مخ کي را پېژندلې ده. په دې برخه کي ښاغلی حنیف خلیل د یوه په زړه پوري واقعیت پر موندلو بریالی سوی دئ او هغه دا چي د دېوان په ټولو چاپ سوو نسخو کي د اسلامیه کالج پېښور له قلمي نسخې څخه استفاده سوې ده خو دی زیاتوي چي " ... خو ډېره عجیبه خبره داده، چې په اسلامیه کالج پېښور کې د شیدا د دېوان همدغه یوازېنۍ نسخه ده، چې ټولو مرتبینو کتلې ده او بیاهم ځینې خبرې داسې دي ، لکه چې، دوی خو دغه نسخه کتلې نه وي او که کتلې یې وي، نو بیا یې دومره سنگینې تحقیقي غلطۍ کړې دي، چې د شیدا د دېوان شکل یې بدل کړی دی." ( سریزه ۳۴ مخ). تر دې یادوني وروسته لیکي چي " د بېنوا صاحب چاپ کړی دېوان بیخي د اسلامیه کالج د نسخې مطابق نه دی... هرکله، چې دغه دېوان ډېر بدل او نیمگړی دی، ځکه مایې یوازې وضاحت خو وکړو، خو خپله نسخه مې لفظ په لفظ ورسره مقابله او موازنه کړې نه ده. بدلون او نیمگړتیاوې دومره لري، چې موازنه یې گرانه ده. البته هغو خامیو ته مې اشاره کړې ده کومې، چې د همېش خلیل او انوارالحق دېوانونو کې هم شته".

په دې یادونو سره خو ښاغلي مرتب خپلې غاړې خلاصي کړي دي، خو د متن پوهني حکم دادئ چي نسخه بدیلونه که هر څو زیات هم وي، راوړل ئې حتمي دي. که داسي نه وي نو د ښاغلي مرتب دا خبره چي " دا موجوده دېوان د دریو چاپ شویو دېوانونو او یوې قلمي نسخې نه مرتب شوی دی...." باید اصلاح سي او ولیکل سي چي" دا موجوده دېوان **د دوو چاپ شویو** دېوانو او یوې قلمي نسخې نه مرتب شوی دی." د ارواښاد بېنوا صاحب په لاس د کاظم خان شیدا دېوان ته ما د خپل کتاب ( پښتو متون سمېدل غواړي) په لومړي ټوک ـ ۲۰۱، ۲۰۹مخونو کي کره کتنه راوړې ده. هورې مي د ښاغلي حنیف خلیل پورتنۍ خبري را نقل کړي دي او د بېنوا چاپ دېوان هغه برخي مي هم چي ناقد ورته گوته نیولې سي، تر یوې اندازې راوړي دي. د بېنوا چاپ دېوان له دریو قلمي نسخو څخه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

برابر سوی دئ چي دوې ئي ( نقل النقل) دي او یوه بله ئي هم د پښتو ټولني نیمګړې نسخه. په نقل النقل کي یوه نسخه د اسلامیه کالج پیښور د نسخي نقل دئ چي ښینوا مرحوم ته د ارواښاد خان عبدالولي خان په شخصي لګښت کوم چا کاپي کړې ده او دا بل نقل النقل د پیښور۔ اکبر پورې د اوسیدونکي عبدالمستعان نومي کاتب په لاس له نقل سوې نسخي څخه د مولانا ابوالوفاء صاحب په لاس رانقل سوې کاپي ده. که ښاغلي حنیف خلیل صاحب پر ځان باندي د ښینوا چاپ دیوان او د اسلامیه کالج پیښور د خطي نسخي د مقابلې او موازني تکلیف منلی وای، موږ لوستونکو ته به روښانه سوې وای چي د اسلامیه کالج په نسخه کي څا لاس وهلی دئ؟ د ارواښاد عبدالولي خان له خواګمارل سوي کاتب او که بل چا؟ د متونو اصول د همدې حقایقو د موندلو او سپینولو له پاره ټاکل سوي دي او همدغه اړتیاده چي زه ئي د پښتو متونو د بیا څېړني درانه کار ته هڅولی یم. ښاغلي مرتب د سریزې په ۳۵ مخ کي اعتراف کړی چي دا موجوده دیوان هم په هر لحاظ مکمل نه دئ. دغه شان پراخ نظری ماته جرئت راکړ چي د دیوان د لاښه کېدو په خاطر دا څوټکي ولیکم.
ښاغلی حنیف خلیل د اسلامیه کالج قلمي نسخي د معرفی په ترڅ کي کښلي دي چي دا نسخه"... د شاعر د لهجي مطابق د کندهاری لهجي په املاء کي لیکل شوې ده، چي ما د کندهاری لهجي"ژ" او "ش" په "ږ" او"ښ" د پیښوری لهجي مطابق بدل کړی دی، چي زموږ د کلاسیک ادب نورو کتابونو سره یورنګ شي" ( سریزه ــ ۳۶مخ).
دا چي "ژ" او"ش" ئي په "ږ" او "ښ" اړولي دي، دا خو ئي ښه کار کړی دئ او دا چي د کاظم خان شیدا لهجه ئي کندهاری لهجه بللي ده، هم نوی انکشاف دئ او نوره څېړنه غواړي.خو دا چي "ژ" او " ش" ئي په کندهاری لهجه کي د" ږ" او "ښ" ږغونو معادل توري بللي دي، هغه تېروتنه ده چي د ختیځي لهجي زیاتره ویونکي پښتانه ئي مرتکب کېږي. په کندهاری لهجه کي " ژ"، " ش"، "ږ" او "ښ" پخپلو اصلي مخرجونو کي ادا کېږي. د دغي لهجي " ښ" او " ږ" په هیڅ صورت "ش" او " ژ" نه دي. دا یو جلا ژبنی بحث دئ چي زه د خپل یوه کتاب "پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه" د دوهم چاپ په ۲۳۴ــ ۲۵۲ مخونو کي پر ږغېدلی یم. دا خبره چي ښاغلي مرتب غوښتي دي د کاظم خان دیوان دي " زموږ د کلاسیک ادب نورو کتابونو سره یورنګ شي"، ښه خبره ده خو د کتاب په متن کي ځني داسي ځایونه کم نه دي چي له دغه یورتني مقصد سره تناقض لري او زه به پر خپل ځای پر وږغېږم.
په دغه دیوان کي د " ښ" لرونکو کلمو او لغتونو په ثبت کي یوه لار نه ده پالل سوې .
زموږ په کلاسیک ادب کي " کښې، کښې" هر ځای همداسي یا د " کښ" په بڼه لیکل سوی دئ، خو په دې دیوان کي ټول په " کي" اوښتي دي. دا کار د ښاغلي مرتب له هغي خبري سره تناقض لري چي وایي غواړي دا دیوان " زموږ د کلاسیک ادب نورو کتابونو سره یو رنګ شي". له بلي خوا که په "کي" کي ئي د" ښ" توری ایستلی دئ، خو په نورو کلمو کي ئي بیا ساتلی دئ. د مثال په توګه :
" کښېنوي" له (ښ) سره لیکي ( وګ: ۲۹۹، ۳۳۴ مخونه او نور).
" کښېناست" له (ښ) سره لیکي (وګ: ۳۱۸ مخ)
"څښي" له (ښ) سره لیکي (وګ: ۳۳۱ مخ)
خو" کېږدي = کښېږدي" بیا بې له (ښ) لیکي (وګ: ۲۹۶، ۳۰۵، ۳۳۰ مخونه او نور)
"اوښکي" ځای ځای له کندهاری لهجي سره سم لیکي (وګ: ۳۰۳، ۲۱۸،۳۱۰،۲۴۷، ۳۵۰، ۲۲۹، ۲۳۰، ۲۵۵ او نور مخونه) خو "اوښي، اوښیو" هم کاږي (وګ: ۲۴۲، ۲۶۹ ، ۲۷۳، ۳۰۵ او نور مخونه). په "اوښیو" کي هم یورنګوالی نسته. ځای ځای " اوښو، اوښي" هم لیکي (وګ: ۲۵۰ ، ۳۴۱ مخونه). په ۲۰۹ او ۲۱۰ حاشیو کي ئي د انوارالحق " اوښکو" ته د ناسم په توګه اشاره کړې ده. زما پوښتنه داده چي که "اوښکي" له کاف سره صحیح وي نو په مغیره حالت کي به ئي د کاف لیري کول ولي لازم وي؟
یو ځای خو ئي لا (ښ) په (خ) اړولی دئ. (لښتی = ویاله) ئي " لختی" لیکلی دئ ( وګ : ۳۲۰مخ)

د ۱۵۴ مخ دا نیم بیتی :
د آزادو لمن کله په خار نخښلي
دلته " نخښلي" که ټایپي تېروتنه نه وي، نو د غلطی حکم پر کېدلای سي.سمه بڼه (نښلي) ده. د (خ) سرباری ئي هسي د لیکدود سرخوږی دئ، بله هیڅ ګټه نه لري.
ــ یو ځای (کوتره) لیکي (۱۸۱مخ) او بل ځای (کونتره) کاږي (۲۶۹مخ). څوک نه پوهېږي چي کوم شکل ئي د شیدا خپل کلام وبولي؟
ــ یو ځای (شاخ) لیکي (۱۸۲ مخ) او بل ځای (ښاخ) کاږي (۱۸۸مخ). لوستونکی نه پوهېږي چي کوم شکل ئي په شیدا اړه لري؟
ــ یو ځای (مصرع) لیکي (۴۰۸مخ) او بل ځای (مصرعه) کاږي ( ۲۹۳، ۳۰۴ او نورمخونه ). له دې دوو شکلونو څخه باید یو غوره سوی وای.
"لار" له کندهاری لهجي سره سمه لیکي (وګ : ۲۲۱، ۲۲۴ مخونه)، لیار ئي نه لیکي.
" اروې" له کندهاری لهجي سره سم لیکي (وګ : ۲۲۵، ۳۲۴، ۳۴۹ مخونه)، اورې ئي نه لیکي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ــ په دې دېوان کې "کله" او "لکه" سره ګډ سوي دي. "کله" د وخت له پاره د پوښتني کلمه ده چي د انګرېزي (when) پر ځای کارېږي او "لکه" د تشبيه کلمه ده چي دانګرېزي (as) پر ځای راځي.
د دېوان په ۱۰۴ مخ کي :

دل تنګي کړم کله ګل په خندا ورکه
که مي باد د سبا بل په خونه اور کا

په ۱۶۰ مخ کي :

کله برق چي ګـرم وګوري نـاګاه
سره لمبه شي په هغه لوري ناګاه

د دېوان په ۲۱۹ مخ کي لولو :
سينه هسي کله نی لـرم پُر درده
چي نفس يکي همېش کا فريادونه
په ۲۲۷ مخ کي :
نور دي مرګ کله ماهي تر حيات ښه دی
تحـمـل مـه کـړه زنـــهار د بـي آبـي
په ۲۷۴ مخ کي :
درباني کله حباب د خپل ګنبد کـړه
يو نفس دی په سينه کي واپسين دی
په دې ټولو بيتو کي (کله) له بيت سره سم نه راځي. په ټولوکي بايد (لکه) راغلی وای.
خو په ځينو ځايو کي ئې بيا سم راوړی دئ. لکه په دې لاندي مثالو کي :
د راستی په (پر) سپينه لار سنګ و خار نشته
په لېمه لکه حـــــــباب کـــــــوم پندونه
( ۲۲۲مخ)
ــ اوشو، اوځي، اووي ، اوچيښ او نور ئې له الف سره راوړي دي. دا راز لوستنه او ليکنه د شيدا په لهجه کي (که ئي کندهاری لهجه ومنو)، الفونه نه اخلي، بلکي ( وشو، وځي، ووې ، ...) ويل کېږي.
که د کاظم خان لهجه د کندهار لهجه وي، نو بيا خو له " ښ" او "ږ" پرته د دې لهجې نوري ځانګړتياوي هم بايد په پام کي نيول سوي وای.
ښاغلی مرتب (چي، مي، کي) بيا له کندهاری لهجي سره سم (چې، مې، کې) نه کارېږي. په اوږده ياء (ې) سره د دغو تورو ليکنه د معنا اساسي توپيرونه پېښوي. زه به په دې برخه کي يوازي په يودوه مثاله بسنه وکړم. کاظم خان وايي:

د شهيدانـــو شـمـع مزاره | نازک بدنه په مخ ګلـــزاره
مرګ مي جدا کا مګر تانه | جمع دعشق ده شعله کرداره

په " مرګ مي جدا کا مګر له تانه" کي د شاعر مراد دادئ چي " زما مرګ ما له تانه مګر جدا کا"، خو که " مرګ مي جدا کامګر له تانه" وليکو، د شاعر مراد به د کوم بل چا مرګ وي چي له (ده نه) به دهغه په سبب جدا کېږي.
ځکه (مي) په کندهاری لهجه (د شيدا په لهجه؟) کي د (مي ئې) معنا لري او "مرګ مي ئې" عبارت د کوم بل چا د مرګ اشاره ښيي.
يا دا بل مثال :

څه خو آګاه شـــــــــه له خپله کاره | دم دي مرکب دی واوره شهسواره
زر به له مزکي ســـــره شي مزکه | د باد په دوش يي مشت غـــــباره

"دم دي" که په لنډه (ي) وليکل سي، له "شهسوار" سره اړه لري او که " دم دې" وليکل سي، له کوم بل چا سره اړه لري. ځکه ( دم دې = دم دي ئې) معنا لري او (ئې) غائب ضمير دئ. دغه راز باريکی زموږ د متونو ترتيبوونکي په پام کي نه نيسي. دا ستونزه له دې امله هم زياته پېښه ده چي په پخوانيو خطي نسخو کي د ياګانو کارول ډېر دود نه ول، بلکي له زېر = کسره څخه ئې کار اخيست. د کسرې پر ځای د اوږدې او لنډې ياء پر انتخاب باندي د متن د مرتب سليقه او لهجه هرو مرو غالبه کېږي او د خپل برداشت سره سم ئې ليکي. په داسي صورت کي به ځوک په مشکله سره دا ومني چي د ياء ګانو دغه شان کارونه دي د کاظم خان شيدا خپل انتخاب او وينګ وي.
**********
د دغه دېوان په سمونليک کي ئې شپږ تېروتني راوړي دي او په پای کي ئې کښلي دي چي:" له دې پرته هم که کومې تېروتني د لوستونکو مخې ته راشي بايد چي په ګوته کولوسره يې په موږ احسان وکړي".

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

د دغي غوښتني په اړه به زه دا یوځو ځایه له احسان پرته ورته وښیم[1] چي ناسم درج سوي دي.

**هغه تېروتني چي شعر ته ئي تاوان پېښ کړی دئ**

په ۴۱ مخ دا فارسي بیت:

دل می تپد و نیست کسی را درس ما
از قافلــه دور است خروش جرس ما

د لومړي نیم بیتی سمه بڼه باید داسي وای:
دل می تپد و نیست کسی دادرس ما
دا بیت د میرزا عبدالقادر بیدل (۱۰۵۴ ـ ۱۱۳۳هـ ق)د یوې غزلي مطلع ده په دیوان کي ئې داسي درج سوې ده:

دل می رود و نیست کسی دادرس ما
از قافلــه دور است خروش جرس ما

د همدې غزلي مقطع په دې ډول ده:

بـیدل به جنون امل از پا ننشستیم
کاش آبله گیرد سر راه، هوسِ ما[2]

په ۴۳ مخ کي:
" ولهاذا" باید " ولهذا" سي
" نامحظور" باید " نامخطور" سي
په ۴۴ مخ کي:
"ژرف نگهبان" باید " ژرف نِگهان" سي.
په ۵۰ مخ کي:
"تدور ریخته بالم هوا نمیدانم"
چي سم شکل ئي باید" تدرو ریخته بالم هوا نمیداند" وي. " تدور" په نورو چاپو کي هم همداسي راغلی دئ خو د زیاترو لغت پوهانو په نزد ئې " تذرو" (د لومړي او دوهم توري په فتحه او دېاي توري په سکون) سم دئ. " تذرو" یو راز ډبنتي چرگ ته وايي( غیاث اللغات).
په ۵۶ مخ کي:
"د عذرا عذرا ئي اور کړ".
سمه بڼه ئي :
"د عذرا عذار ئي اور کړ"
عذرا د (پېغلي) په معنا او عذار د ( باړخو، رخسار، اننگي) په معنا.
په ۷۳ مخ کي :
اشداء گوره بار
ورسره علی الکفار
اول نیم بیتی یوه څپه کم دئ، باید" اشداء گوره بار بار" وي.
په ۷۶ مخ کي :
شهوار که یي یکران و
په حیرت ورته دوران و
د اول نیم بیتي سم شکل : شهسوار که یي یکران و.
په ۱۵۰ مخ کي :
زه د عشق له غمه ټول سیاه پوش یم
په مانند د جرس هردم په خروش یم
اول نیم بیتي یوه هجا کم دئ او دا هله سمېدلای سي چي د (ټول) پر ځای (ټوله) ولیکل سي. (ټوله) د شیدا له لهجي سره موافق هم دئ. په زیاترو خطي نسخو کي د کلمو دغه د پای حرکت په زوَر (فتحه) سره ښوول سوي وي.
په ۱۶۴ مخ کي :
د اشعار بحر وي تل بې تراوته
سم به ئي داسي وي :
.... بې طراوته

[1] زه له " په گوته کولو" سره موافق نه یم. دغه کلمات اوس له بده مرغه رواج سوي دي خو په ځینو لهجو کي د ښکنځلو معنا لري. تر هغې که ( ښوول، څرگندول، اشاره ورته کول، اونور) کلمات راوړل سي ،ډېر به ښه وي.
[2] وگ : دېوان بیدل ـ غزلیات، مقدمه و ویرایش دکتر محمد سرور مولایی، جلد اول، ص ۲۱۷، چاپ تهران ۱۳۸۶ش


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د همدې مخ دا بل بيت :
خود بيني کله شيوه د پاک طبيعت ده
د ( پاک طبيعت) پر ځای بايد ( پاک طينت) وای.
په ۱۶۸ مخ کي:
چې راغلی و دې دريايي شور ته
( دريای شور) فارسي ترکيب دئ او (ی) د نسبت توری دئ. معنا ئي تريخ درياب دئ. که ئي په پورتني ډول ( دريا يي) وليکل. (يي) د ضمير بنه اخلي او معنا به ئي ( د کوم ځای تريخ درياب) سي.
په ۱۷۹ مخ کي :
چي په ورځ لکه فلک شمع سوځي کا
د شيدا مراد بيا د ( شمع سوزی) فارسي ترکيب دئ چي پښتو معادل ئی ( شمعه سوځونه) راځي. په فارسي ترکيبو کي د پښتو (ځ) کارول د هماغه ترکيب مسخه کول دي.
په ۳۱۴مخ کي :
دی کاسب ددې نسبت ابوالحسن کړ
دلته د(کاسب) پر ځاي ( ناسب) سم راځي. کاسب د کاتب تېروتنه ده.

د لومړی برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ